# د خدايي خدمت ګار غورځنګ ارتقائي پلونه:
# کلتوري او ټولنيزه څېړنه

ډاکټر برکت شاه کاکړ[♥]
صالحه بازئی[♣]

**Abstract:**

The emergence of *Khudai Khidmatgar* movement has been one of the important politico-social and cultural occurrences in the history of Indo-Pak. The way the movement evolved shows that there were no blue-prints that were followed for the social, cultural and political organization of the Pashtuns in that particular time (1930-1947) and space. The authors strive to trace the footprints of the creators of this movement that has incarnated political and social awakening in the distinct social strata. Bacha Khan's concept and practices of non-violence evolved from within the social and cultural milieu that gradually culminated into a nonviolent anti-imperialist movement of his time.

**Key Words**: Khudai Khidmatgar, Social organizations, Non-violence, anti-imperialist

آيا انسان په خپل سربښت کښې د خېر توکي لري که د شر، آزاد دی يا که په څه ډول داخلي يا بهرني زولنو تړلی دی؟ د انساني ژوند، د کائناتو د تخليق د مقصد او غايت حقله ډېر سوالونه پخوا هم پوښتل شوي دي او پر ډېرو اوس هم دامهال بحثونه روان دي. په پخواني ايرانيانو کي دزروان تصور، د يونانيانو دموېرا، د هندوانو کرم، د سېنټ آګسټېن د پيدايشي ګناه تصور دا ټول په يوه نه يوه بڼه د انساني جبرخبره کوي"بېرته ارسطوهم په دې عقيده وو چي انسان مجبوردی او هغه دا خبره غبرګوي چي، "د انسان مجبوري خارجي (بهرنی) نه داخلي ده.

خو تاريخي حقيقتونه څه بل شان اړخ هم را څرګندوي. د انسان په سريښت کي د ازلي نېکۍ، خېر، رشتيا او تخليق په حقله هم ګڼ شمير نظرونه شتون لري. بي لوثه مينه، قرباني، مرسته، زغم او برداشت د انساني تهذيب او کلتور هغه مشترکي پانګي دي چي پر دې دلالت کوي چي انسان په داخل کي د خير او ښېګړي رجحانات لري.

---

[♥] Assistant Professor at department of Pashto University of Balochistan Quetta
[♣] Lecturer Department of English, SBKWU-Quetta

خصوصا د نړۍ اوسني او پخواني اديان د انسان په سرپښت کښي د اذلي خېر تصور وړاندي کوي. تصوفي افکار هم دغۀ خبره په بېل ډول کوي، يعني چي ټول انسانان د يوه لوی کل برخه دي. په عالم دنيا کښې انسان د نېکي، قرباني او ميني په سوب بيرته د هغه لوی کول برخه ګرځېدلی شي، دمولانا جلال الدين رومي غوره مثنوي "نې نامه" په دي حقله غوره کيفيات بيان کړي دي.چيري چي مولانا ټول انسانان د يوه کهول غړي ګڼې هلته رحمان بابا هم د غه يو والی څه داسي بيان کړی دی.

آدم زاد په معنی واړه يو صورت دي     هر چي بل آزاروي هغه آزار شي

د تاريخ په اوږدو کښې موږ وينو چي د جنګ او شر په ضد هر وخت او هر ځای خلګ راپاربېدلي دي. خصوصا ځان له بدو ژغورل، له جنګه او فساده بچ ساتل يوه داسي شعوري هڅه ده چي انسانانو وربانـدي ډېر ژور فکر کړی دی. د خپل حق غوښتلو په لاړ کښې زحمتونه ګالل، د رشتيا ، ميني او شکلا د خورولو لپاره تهمتونه، تکليفونه او مرګونه ګالل د ډېرو فکري او نظرياتي غورځنګونو ګډه سنت پاتي شوی دی. هم دغه ډول چيري چي موږ د سوله ايزي مبارزې (عدم تشدد) تاريخ ته ګورو نو هلته هم موږ ته دا تصور ډېر لرغونی په نظر راځي. د بېلګي په توګه په دې حقله تر ټولو معروف حواله د حضرت عيسی عليه سلام يادېږي چې د زغم او مهرباني سمبول دې. د هغه يوه حواري مېتيو د هغه يو قول داسې راوړي دې.

You have learnt how it was said; "Eye for eye and tooth for tooth. 'But I Say to you, Offer the wicked man no resistance. If anyone strikes you on the right cheek, turn the other also; if a man takes you to law and would have you tunic, let him have your cloak as well. And if anyone orders you to go one mile, go two miles with him"(1). Mt. 5. 38-41

ژباړه: "آيا تاسو پوهېږي چې خلق څۀ وايي؟. هغوی د سترګي په بدل کښې سترګه او د غاښ په بدل کښې غاښ اېستل غواړي. خو زه دا وايم چې و دهوکه بازه کس په لاړ کښې هم مۀ مزاحم کېږي . که يو څوک تاسو ته د مخ پر يوه خوا (رخسار) څاپېړه درکړي، نو تاسو هغه بله خوا هم ور سرمه کړئ. که يو څوک در څخه ستاسو ګدړی (خرقه) و غواړي نو تاسو ورلره خپل څادر هم ورکړئ. او که يو کس و غواړي چې تا سو ورسره يو ميل تګ وکړئ نو دوه ميله ورسره ولاړ شی."

له دې پرته که د اسلام، بدمت، جين مت، کنفيوشنزم او نورو مذاهبو ته ځير شو نو هم بنيادي سبق هم دغه دی. په جين مت او بدمت کښې د ټولو ساداراانو د خيال ساتلو او د هغوی د بقا له پاره زيار اېستل د مذهبي عبادت برخه ده. که لږ په ځير وکتل

شي نو به څرګنده شي چې د زړهٔ سوي (Compassion)تصور او احساس په ټولو مذاهبو کښې يو ډول شتون لري.

د نورو مذاهبو سره سره د اسلام په بنيادي تعليماتو کښې د امن، زغم او معافۍ بنيادي اخلاقي اصول تر ډېره حده په نظر راځي. د بېلا بيلو عربي لغاتو له رويه ټکي "اسلام" اصل ماده "سلم" ثابتيږي چې د مفهوم له لحاظه پر سلامتۍ دلالت کوي. په بله معنا اسلام د يوه بنده د خدای و رضا ته غاړه ايښودل دی.

## راتپل شوي ځنګونه او پښتانهٔ:

د تاريخ په اوږدو کښې د هند د کوشنی و چې او د سوېلي اېشيا د سياسي تقدير په بدلولو کښې د پښتنو او افغانانو مهمه رول پاتې شوې دې . که دچنګيزيانو حاکميت و يا که د بابر، تيمور لنګ و که نادرشاه افشار، په هر وخت کښې د افغانانو په مرسته يې پښې دلته ټينګې سوې دي يا ختلې دي.

انګريز ليکوال (C. A, Bayly) په خپل اثر (Empire and Information) کښې د پښتنو سيمه د هندوستاني امپراتوريو "لړمون"بللې ده. مطلب دا چې په هند کښې د هر امپراتور لپاره ضمينه دهم دې سيمي د سياسي حالات په ترخ کښې جوړيږې يا خرابيږي. د بېلګي په توګه په اتلسمه صدۍ کښې د ايراني صوفي امپراتورۍ ټغر له هم دې ځايه ټولېدل پيل شو، له هغه وروسته دراني امپراتورانو خپل برم و ساتلو او د سکهانو او مرهټانو د امپراتوريانو د غورځولو په لړ کښې هم د پښتنو تر ټولو مهم رول پاتي شوی دی، چې له کبله يې دلته په برطانوي هند کښې انګريزانو پښې ټينګې کړې. د انګريز سامراج استازو دغه حقيقت ډېر وختي پېژندلی ؤ ځکه خؤ يو بل ځای فيلډ مارشل سر کلاډ جيکب ليکي.

> "The safety of the Indian Empire and also that the British Empire depends on whether or not we hold the North-West Frontier of India. If Frontier goes, India goes, India goes, and if India goes, it means serious loss and damage to the British Empire as well. We should always bear that in mind"(2).

"د هندي او برطانوي امپراتوريو ژغورنه په دې کښې ده چې آيا موږ د هند پر سرحدزموږ حاکميت دی که نه. که چيري "سرحد" زموږ له لاسه ؤ وت، هندوستان مو و ائلی، که چيري هندوستان زموږ له لاسه ؤ ووت نو د دې دا معنا سوه چې د برتانيې و امپراتورۍ ته ډېر ژور تاوان وا وښتی. بائيد موږ دا خبره په خپلو مغزو کښې کلکه و نيسو".

په داسي حالت کښې چې کله پښتانه د لرغوني نړۍ پر يوه "چهارسو" يا چوک پراته ؤ، د مځکې زياتره برخه يې غره ايزه، شاړه، شنډه، سپېره او د اوبو او ونو څخه محرومه

ده، چیري چې د خلګو د ژوند بنیادي ضروریات لکه اوبه، خوراک او پوښاک کخت پاتي شوی دی هم دغه ډول دلته د امنیت وضع هم تر ډېره وخته خرابه پاتي شوې ده. د پښتني سیمو د مځکني موقعیت او قدرتي کړۀ وړۀ په حقله پخوا هم او اوسني تاریخ لیکونکو هم ډېري داسي قیصې لیکلي دي چې اوس موږ ته اساطیري یا خیالي ښکاري.

په دې آثارو کښې چې زیاتره په یورپي نوآبادیاتي پېر کښې لیکل شوي دي، چیري چې د پښتنو د وطن کړۀ وړۀ د نېستۍ او شنډتیا استعاره بیان شوي دي هلته د هغوی د مزاج کرختګي یا سختي هم د مځکي د نامهربانه شکم او خړو پړو غرونو پیلامه ګرځېدلي دي.

دلته اوس دا سوال را پورته کیږي چې آیا د پښتنو په کردار کښې چې د جنګ او تشدد سره د تلازمې کوم فکر وړاندي شوی دی هغه د مځکي یا د فطرت د نامهربانه مزاج په سوب دی که د دې سیمي د مځکني موقعیت په سوب دی؟. ستیفن ټېنر په خپل اثر کښې دا حقیقت څه بېل ډول مقائسه کړی دی. هغه لیکي:

> "The Uniqueness of Afghanistan lies not at the hub of disparate empires; after all, flatlands of northern Poland and central Iraq have been equally well trod by rampaging armies. Afghanistan continuously violent history is due in equal measure in to the name of its territory, which has in turn influenced the nature of its people" (3).

په پښتني ټولنه کښې دعسکریت رېښې تر هغه وخته نۀ شو لڅولی تر څو چې د هندوستان د مسلمانانو د آزادۍ د مخکښو رائیې د پښتنو او د دې دوطن په حقله و نۀ څېړو. لکه څۀ ډول چې د پښتنو مځکني موقعیت ډېر اړ او سنګلاخ دی، د نړۍ د کلتوري بهیر څخه او د برتانوی جمهوري، سیاسي او انتظامي اصلاحاتو څخه بې برخې پښتني وطن د نورې نړۍ لاڅۀ د هند په کوشنی وچه کښې لاهم ډېر روایتي، لرغونی او د ارتقا څخه بې برخې پاتې شوې دې .

څکه دلته نۀ خو د انګرېز عملداري هغه ډول ټینګه شوه او نۀ ده بل یوه عسکري قوت. د نولسمې صدۍ تر اخېري لسیزې پورې په هندوستان کښې په عمومي ډول سیاسي بېداري را غلې وه. په دې کښې به مبالغه نۀ وي چې، پښتنو په افغانستان کښې او د برټش انډیا په دواړو سیمو کښې دانګرېز سره نېغ په نېغه تر اوږدې مودې پورې دومره جګړې کړې دي، چې د هند بل قام نۀ دي کړي. میان اکبر شاه په خپل خودنویشت " د آزادۍ په لټون" کښې چې د اردو ژباړه یې سید وقار علی شاه کړې ده، د پښتنو او انګرېزانو د جګړو په حقله وایي چې،

"د کـال ۱۸۴۹ء څخـه بیـا د صـوبه سـرحد تـر جوړېـدو ۱۹۰۱ء پـورې پښـتنو او انګرېزو په خپل مینځ کښې ۶۰ جنګونه کړي دي "(4).

د فکـر خبـره دا ده چـې د پښـتنو زیـات عسـکري تنظـیم او جنګـي چپاوونـه د فقیـر اپـي، حـاجي صـاحب د ترنګـزو، کاکـاجي صـنوبر، مُـلا پاونـده او د غـازي امـان الله خـان د اسـتقلال جنګونـو او د باچـا خـان او خـان شـهید زغـم جنـګ او مسـتقیمه سیاسـي مبـارزه لا په دې کښې نۀ دي یاد شوي چې د ۱۹۰۱ء څخه وروسته واقعه شوي دي.

د هنـد مسـلمانانو د بهرنـي دښـمن پـه ضـد هـم دغـه پښـتانۀ او د هغـوی وطـن د ځـان او مـذهب لـه پـاره ډال او سـپر ګڼلـې دی. د "دارلحـرب" او "دارالاسـلام" اصـطلاح ګـاني د هـم دغـه وخـت د سیاسـي او عسـکري اسـلام غوښـتنې وې. د چـارلس الـن (Charles Allen) او نورو لیکوالانو لـه قولـه چـې سېد احمـد شـهیدخپل ځـان مهـدي آخـر زمـان ګڼلـو. ځکـه هغـه د انګرېـز سـامراج او د سـکهانو پـه ضـد چـې کومـه مبـارزه وکـړه د هغـه لـه پـاره یـې د دارالسـلام لټـون وکـړ او پـه آخـر کښـې ورتـه د بـونېر د مهـابن غرونـه د عسـکري مرکـز لـه پاره په لاس کښېوتو.

د تـاریخ هـم دغـه غبرګـون عـین د شـلمې صـدۍ پـه دویمـه لسـیزه کښـې تـر سـره شـو کله چې مذهبي ګوندونو د غزا په وخت کښې یو ځل بیا افغانستان دارلحرب وباله.

داسـې اسـتبدادي حـالاتو پـه پښـتني ټولنـه کښـې ډېـر مخـور او بـا اسـتطاعته پښـتانۀ مشـران روزلـې دي، چـې د زیـاترو اپـروچ د آزادۍ لـه پـاره ټوپـک راخېسـتل وو. حـاجي صـاحب د ترنګـزو، مُـلا هـډه، مُـلا پاونـده، فقیـر اپـي او نـور داسـې پښـتانۀ مبـارزین شـته چـې د انګرېـز پـه ضـد یـې د خپـل ژونـد نظرانـه پېش کـړې ده. د قـدرت او اسـلحې څخـه بـې نیـازه پښـتانۀ هـر وخـت د ایمـان او توکـل پـر متـو یقیـن کـړئ دې. د شـلمې صـدۍ پـه دویمـې لسـیزې کښـې دا حقیقـت څرګنـد شـو چـې د یـورپي ښـکېلاک ګرانـو څخـه دآزادۍ او خپلـواکۍ لارې چـارې بایـد بـدلې شـي. ولـې چـې د لـومړي نړیـوال جنـګ لـه پـاره چـې د دغـو اسـتعماري ملکونـو د حـرب ووژلـو کـوم مشـینان تیـار کـړل، د هغـه د پښـتنو غونـدې قبایلي او بې صنعته خلقو سره نۀ و.

دنوي وخـت د مقاومـت نـوې اسـلحې څۀ کېـدای شـوې؟ پـه دې حقلـه وختـي څۀ تـور پـر سـپین (Blue Print) وجـود نـۀ درلـود. عـن دومـره وه چـې وقـامونو تـه د بقـاء سـتونزه پېښـه وه. د پلاسـي د جنـګ څخـه بیـا د آزادۍ د ۱۸۵۷ء جنګـه پـورې، او بیـا د خلافـت غورځنـګ او د فقیـر اپـي تـر مبـارزې پـورې، هـیڅ یـوې مبـارزې د انګرېـز پورتـه شـوي ګامونـه پـر شـا ونـه تمبـول. پـه دې وخـت کښـې یـوازې بـا چـا خـان تـه ددې قـوم د آزادۍ هغـه پټ راز ور

معلوم ؤ چې بل چا ورته په خپله مبارزه کښې اهمیت نۀ ؤ ورکړې. څۀ وخت چې لومړي نړیوال جنګ په نتیجه کښې د عثمانیانو پخوانۍ او د کلاسیکي طرز بادشاهت رنګ کړل شو نو په هندوستان کښې د هغه په ضد د خلافت غورځنګ منځ ته راغلی. دا یو داسې غورځنګ ؤ، چې د نړۍ د یوه لوی استعمار څخه یې د یوه زاړه او تش په نامه مسلمان بادشاهت یا سلطنت د بحالولو غوښتنه کوله. د هند په پوله پوله مسلمانانو او هندوانو د خلافت غورځنګ ملا تړ وکړ. خو د باچاخان دریځ بنایي تر ټولو بېل ؤ.

باچا خان په خپل خودنوشت کښې په دې حقله خپل دریځ داسې څرګند کړې دې.

"په کوم قوم کښې چې د قربانۍ ماده پاتې نۀ شي، هغه به تل د بل توري ته ګوري. کله به د جرمن په تمه وي او کله به د ترک په تمه وي او کله به د امام صاحب په تمه ناست وي. د هندوستان د مسلمانانو بله کمزوري دا وه چې دوئ به دخپل ملک اندروني معاملو سره دومره دلچسپي نۀ اخېسته د نورو بیروني خلقو په غم کښې به و. دوئ په دې فکر کښې ؤ چه موږ ته د ترکي سره امداد پکار دې، دوئ سره دخپل ملک دومره غم نۀ ؤ لکه چې د بل د ملک وي "(5).

خو د نړۍ د عدم تشدد په اجتماعي تاریخي شعور کښې د باچاخان عکس ورو ورو خپل کړۀ وړۀ ښکاره کړي دي. که څه هم ددې عصر د تاریخ نویسۍ روایت د نوآبادیاتي او پس نوآبادتي فکر او تکنیکي مباحثوڅخه تر ډېره حده متاثر پاتې شوې دې . او پرته د دې چې د مابعد جدیدیت علماء د تاریخ نویسۍ روایتي (درباري، سرکاري او عسکري) تاویلونه رد کړي دي، خو بیا هم له نوي سره د تاریخ نویسۍ د فکري، اخلاقي او تکنیکي/تحقیقي اصولونو خاکه وجود لري. لنډه دا چې د باچا خان د خدايي خدمتګارۍ د غورځنګ، چې په بشپړه توګه پر عدم تشدد ولاړ ؤ. د تاریخ و رسمي بهیر ته ډېر وروسته را ستون شوې دې . د دې علتونه بېلا بېل دي، خو بنیادي علت یې د پاکستان د ریاستي ادارو غېر جمهوري او ضد علمي رویې دي چې په تدریسي کتابونو او د ریاست د ګټلو او آزادولو په تاریخ کښې یې د ټاکل شوي خلق د ملي مشاهیرو په توګه یاد کړي دي. باچا خان او د هغۀ نور پښتانۀ قوم پرست چې د کانګرس د دریځ سره یې موافقت درلود د وطن د غدارۍ په تور تورن شول او د آزادۍ وروسته هم هغوی د عادي مجرمانو غوندې په زندانونو کښې قېد کړل شول.

و بل پلو ته د افغانستان ریاست د مطلق ګډ وډۍ سره مخا مخ شو. ځکه نو د تاریخ په یوه مخصوصه پېر کښې چې قبایلي پښتنو د خپل مشر په ملتیا د استعمار او ښکېلاک ګر په ضد یوه داسې مبارزه پېل کړه چې ربښې یې د تشدد په زغملو او ګاللو

کښې وې. د دغه مبارزې تاریخ لیکلو ته ډېر بعد کښې خلق ولمسېدل. په دې حقله یو خو د باچا خان خپل خودنویشت "زما ژوند او جدوجهد" دی، د غني خان شاعری، د ولي خان اثار، د خدايي خدمت ګارانو شاعري او نثر او د هغه وخت اولسي بدلې او سندرې داسې دي چې د خپل وخت ډېر سالم تصویر یې کشف کړې دې. له دې سره سره د ډاکټر وقار علي شاه، ډي جي ټنډولکر، آتر چند او تر ټولو مهمه دمېرمن مکو لیکا بېنر جي تحقیقي اثر (The Pathan Unarmed) او دایکنات ایسواران اثر (Non-Violence Soldier of Islam) او له دې پرته په سلګونو مقالې په بېلا بیلو ژبو کښې د باچا خان د عدم تشدد او د هغهٔ د ۷۰ کلنې سیاسي مبارزې په حقله منځ ته راغلې دي.

د باچا خان د غورځنګ او سیاسي تنظیم په حقله چې کومې خبرې په اوسنیو کښې منځ ته راغلې دي، د خدايي خدمتګار غورځنګ رغښت او د هغه ټولنیز، سیاسي، تعلیمي او کلتوري دریځ او اپروچ څهٔ ؤ، مکولیکا بېنر جي (Mukulinka Banerjee) او ایکنات ایسواران په خپلو اثارو کښې د نړۍ ومخ ته د روښانه لمر غوندې ښکاره کړي دي.

## خدايي خدمتګار غورځنګ پیل، ارتقا او پایله:

د خدايي خدمتګارۍ غورځنګ څهٔ ډول په وجود کښې راغلی، کړنلارې او مرامونه یې څهٔ ډول وټاکل شول؟ زما په نزد د دې ټولو ځوابونه د باچا خان د کردار د خوزښت او ژوند پېښو شاوخوارا چورلي. دا یو داسې تاریخي غورځنګ دی چې د ټولنې پرجامداو شنډ ټولنیز، کلتوري او سیاسي فضاء کښې د فکر او عمل تازه ګي پیدا کړې ده. د غورځنګ د خاورې تاریخي کړۍ تر شا د باچا خان د ژوند یوه دلچسپه او په زړهٔ پورې خاطره شتون لري. هغه د پښتون وطن په لوړو او ژورو کښې قامولۍ د جذبې د راپارولو له پاره یوه یوه کور او یوه یوه جومات او حجرې ته تللی دی. د خپل سیاسي تدبیر له پاره یې جرګې کړې دي. د سیاسي عمل او کلتوري انقلاب له پاره یې د خپل زړهٔ، ذهن او سترګو دروازې خلاصې ساتلي دي او د زده کړې له پاره یې د مذهب، دین، رنګ، عمر او صنف توپیر نهٔ دې ساتلې. د عمر ۳۲ کلونویې په زندان کښې د تېر کړي او هلته یې هم د خپل فکر زمامونه په خپل لاس کښې ساتلي دي او عدم تشدد، جمهوریت او آزادۍ له پاره یې د عمر تر آخېرنۍ سانېې پورې مبارزه کړې ده.

د پښتنو د سیاسي بېداري او د هغوی د کلتوري او ټولنیز ژوند د نوي سره تشکیلول دوه داسې دلچسپه اړخونه دي چې یو پر بل په مستقیمه توګه اغېزه کوي. لکه څنګه چې لوړ هم تکرار شو چې د باچاخان او د ګورېلا او عسکري مخورو علماو

تـر مـنځ تـوپير هـم دا و، چـې باچـا خـان د پښـتنو پـه ټـولنيز ژونـد او داخـل کښـې د هغـوی و ستونزو تـه د کتلـو ادراک درلـود. ولې دا خبـره خـو هسـې لـه پخـوا هـم مشـهوره ده چـې پښـتنو پهوار وار د جنګ میدان ګټلی دی خو د سیاست پر مېز يې هر وار ګټلی جنګ بايللی دی.

کـه د عـدم تشـدد او خـدايي خـدمتګارۍ پـر خوزښـت نظـر وا چـوو نـو د بـا چـا خـان ژونـد او سياسـي يـون عـېن مختـه راځـي. پـه فـوج کښـې د کميشـن اخېسـتلو وروسـته فـوځ پرېښـودل چـې يـوه اولـس دښـمنه ټولـه ده، او بيـا د هغـه وروسـته پـه خپـل کلـي کښـې د ښـوونځيو خلاصـول داسـې لاملونـه دي چـې د هغـه کمټمنـټ او وژن ورڅخـه عيـان دی. لـه هغـه وروسـته بـا چـا خـان د کلتـوري او ټـولنيزې اصـلاح لـه پـاره د انجمـن اصـلاح افاغنـه پـه نـوم تنظـيم جـوړوي او ورسـره د آزادو مدرسـو پـه نامـه مدرسـې پرانسـتې. د بـا چـا خـان پـر مبـارزه اصـلاحي رنـګ ډېـر غالبـه ؤ او د آزادو مدرسـو لـه لارې هغـه پـه اولـس کښـې يـو داسـې ډائـلاګ پيـل کـړ چـې دپښـتنو د پـس مانـدګۍ او لاچـارۍ علتونـه يـې د هغـوی د طـرز عمـل نتيجـه وښـودله. دغـه ډول سياسـي او فکـري مکالمـه (ورڅـه) چـې د خلقـو پـه ذهنونـو کښې يې نور سوالونه وپارول د هغوی دبېدارۍ پيلامه و ګرځېدل.

د انګرېـز سـامراج څخـه د خپـل وطـن او خلقـو د خلاصـون او آزادۍ لـه پـاره، باچـا خـان د ديوبنـد د علمـاوء سـره پـه مسـتقيم ډول پـه تمـاس کښـې پـاتې شـوې دي. د خـدايي خدمتګارۍ او د عـدم تشـدد د فلسـفې سـره د اشـنا کېـدو څخـه وختـي، باچـا خـان د ديوبنـد د علماو سره پـه کـال کښـې لېدو کتـو تـه حتمـاً دوه ځلـه تلـو. پـه خپـل ژونـد ليـک کښـې هغـه پـه دې حقلـه بشـپړه تفصـيلات ليکلـي دي، چـې د دهلـي د عبيـدالله سـندهي او د دشـېخ الهنـد مولانـام محمـود الحسـن سـره هغـه څـۀ ډول پـه قبـايلي علاقـو کښـې د عسـکري مرکـز د قـايمولو لـه پـاره هڅـې وکـړې. خـو د باچـا خـان سياسـي شـعور د هغـه د اخلاقـي اقـدارو پابنـد ؤ، او بـل دا چـې د باچـا خـان ادراک د پښـتنو د غلامـۍ پـه حقلـه هـم دا ؤ چـې د پښـتنو د کلتور او ټولنيز رغښت داسې لامل دي چې د هغوی د پښو زولنې جوړې شوي دي.

باچـا خـان د عـدم تشـدد او سياسـي فکـر اخېسـتنه د خپـل کلتـور څخـه هـم کـړې ده، د مـذهب څخـه هـم او دخپـل وخـت د سياسـي حـالاتو او د سـامراج د جـور، نـاروا او ظلـم څخـه يـې هـم ډېـر څـۀ زده کـړي دي. ځکـه هغـه پـه تـدريجي توګـه د ثقـافتي عمـل پيـل کـړو. پـه خپـل خودنويشـت کښـې هغـه ليکـي چـې د خـدايي خـدمتګار غورځنـګ د پيـل کولـو سـره هغـه پـه کليـو او بانـډو کښـې خپـل فکـر د تبليغـي اپـروچ لانـدي پيـل کـړ. کـه څـه هـم هغـه وخـت مُلايـانو ډولونـو بانـدې بنـديز لګـولی ؤ، خـو د خـدايي خـدمتګارۍ پيـل د ډهنـډورې سـره وشـو او دهنډورچيانو د کلي خلق د باچا خـان د خبرې اورېدلو تـه متوجـه کـړل. ځکـه نـو لـومړی ګـام

دا ؤ چې د ټولنې د رغښت څخه وتلې د آرټ دغه سیدها ساده آله او ټولنیز ه طبقه یې را منځ ته کړه.

د پښتونولۍ لرغوني کلتوري ګنجایشونه لکه کلتوري او د فصلونو مېلې، د اختر او د نوروز مېلې،جرګې، اشرونه، اتڼونه، ځایي لوبي غرض دا چې د عادي ژوند بشپړه تصویر په کښې کتل کېدای شي. د سامراجي او قبضه ګرو قوتونو خروښ تر هغه نهٔ خیژي تر سو محکوم خلق د خپله ځانه بېګانه کړي. ولې چې تر څهٔ وخته چې اولس او ټولنه د یوه خاص کلتوري حالت څخه را ونهٔ ایستل شي، تر هغه وخته د بل کلتور له پاره ځای نهٔ جوړېږي. د مذهبي زعماوء له خوا چې پر کلتوري او ټولنیز عمل کوم بندیزونه لګول کېږي یا په تېر وخت کښې لګول شوي دي، هغه د یو قام د بشپړه تاریخي حقیقتونو له منځه وړلو تقاضا کوي. د ډول او ډولزن ځای په یوه ټولنه کښې په ظاهره خو ډېر معمولي ښکاري لېکن په حقیقت کښې د پښتونولۍ د فن او اظهار ډېر فورمونه د هم دغه ساده موسیقایي آلې شا وخوا را چورلي.

کلتوري عمل ته دوام ورکول او په کلتور کښې د عبث او فاسدو مادو په ضد کار کول یو داسې عمل دی چې د سیاسي لارې څخه بل چا نهٔ دې پېل کړې. د خدایي خدمتګار تحریک دویمه ځانګړنه هم دا ده چې د ټولنیز رغښت (Social Structure) او د نارینه او ښځینه په حقله جوړ کړل شوی ټولنیزې رویې (Socially Constructed Behaviros) او تضادات یې و غندلو او په سیاسي عمل کښې یې ښځې د عملي ګډون له پاره لار هواره کړه.

ښځه که څه هم په روایتي پښتني ټولنه کښې د ټولنې په مرکزي بهیر کښې ګډون نهٔ درلود، خو د خدایي خدمتګارۍ غورځنګ دا ټولنیز تحدید (Limitation) باطل ثابت کړ. زنانو د زرګونو په شمار د خدایي خدمتګار تحریک کښې ګډون درلود. باچا خان د اتمانزو په جلسه کښې په زرګونو نر او ښځې ګډون وال یاد کړي دي.

د باچاخان د خودنوشت، او پر خدایي خدمتګار غورځنګ د نورو تحقیقي کارونو څخه دا حقیقت را برخېره کېږي چې هغه په هر هغه لورې موثرګامونه اوچت کړي دي چې ورته د پښتنو په ټولنیز رغښت کښې کمبوت ښکاره شوې دې.

هر فرد چې د خدایي خدمتګارۍ غړیتوب به یې تر لاسه کولو یو سوګند به یې اخېستو چې ذکر یې وختي وشو. خو دلته دا خبره د یادولو وړه چې په دې څوګند به یې ژمنه کوله چې په کور کښې یا له کوره باهر به هغه هیڅ کله تشد نهٔ کوي او روزانه به دوې ګهنټې کار کوي.

د پښتنو د منظم کولو له پاره د هغوی تربیه د باقاعده فوځي طرز باندې وکړه. په هر کلي کښې د کانګرس کمېټیاني جوړې شوې. دمکولیکا بېنرجي د پلټنې د انګرېزانو د وخت هغه خفیه رپورټونه ښېړلي دي چې د خدايي خدمتګار غورځنګ د خوزښت او ارتقاء ډېر ښۀ انځور وړاندې کوي.

"The Khudai Khidmathgaars grew substantially through the 1930s. By 1938, British Intelligence reported 386 Congress Committees across the province (Compared to 8 in 1932) spread across 220 towns and villages. The wider red shirt membership was far larger, however and governor reported that over 50,000 'would call themselves the red shirts'; the organization is therefore widespread, and for the moment seems to have reached saturation point"(6).

ژباړه: د ۱۹۳۰ء په لسیزه کښې خدايي خدمتګار غورځنګ ډېر وده وکړه. د بر طانوي استخباراتي (انټیلجنس) ادارو له اړخه وئیل شوي دي چې تر ۱۹۳۸ء پورې په صوبه کښې ۳۸۶ د کانګرس کمېټیاني جوړې شوي دي چې په ۲۲۰ کلیو او ښارګوټو کښې شتون لري. د سرخ پوښو تعداد ډېرزیات شوې دې ،خو دصوبې د ګورنر د رپورټ مطابق دلته ۵۰۰۰۰ انسانان خپل ځانونه سرخ پوښي بولي او د ا تنظیم په اولس کښې دومره خور شوې دې چې رېښې یې هر ځای خورې شوي دي ".

سرخ پوښي وخدايي خدمتګارانو ته ځکه وئیل کېږي چې د خپل شناخت له پاره هغه یوداسې نشان ولري چې د هغوی پېژندګلو وربانديې وشي. د دې تعلق د اشتراکیت سره نۀ دې بلکې د باچا خان د وېنا مطابق چې پر دغه رنګ خیره نۀ ښکاري ځکه نو د خوارانو او زیارکښانو په غاړه وي. خصوصاً د پخو خښتو په بټۍ کښې چې کوم مزدوران کار کوي د هغوی د کالو چې هر رنګ وي آخر سور واوړي. اتړ چند په خپل اثر چې زبیر ژمن "د باچا خان او دآزادۍ مبارزه" په نامه په پښتو ژباړلی دی لیکي:

"د هغه د ملګرو چې کله فکر شو چې سپین کالي یې په اساني سره خیرنېږي نو یې هوډ وکړ، چې رنګ یې کړي. له دې یې خپل قمیص و پرتوګ او پګړۍ د سیمې یوه دوبي ته یوړل او هغه یې د صنوبر د ونې پوټکي په محلول کښې، چې د چرم له پاره برابر شوي ؤ غوپه کړ. کله چې بل ځل دغه ډله بهر ووتله، د دوئ د کلیو غېر عادي رنګ د خلقو سترګې ځان ته راکشولې، خلقو به خپلو پټیو کښې کارونه پرېښودل او د سرو کالیو د ملبوسو کسانو په ننداره شول."(7)

د ټولنیز او کلتوري اصلاح په دې تحریک کښې د پښتنو خپل منځي شخړې هوارې کړل شوې. په پښتنو کښې د یوه مرام له پاره د یو کېدو ارمان را پارول شو. د

ښځو پـه ټـولنیز ژونـد کښـې فعالیـت، د ښـوونځیانو و لوسـتونکو تـه د زکواتونـو رقـم ورکـول، کـار وربـار پېـل کـول، ان تـر دې چـې باچـا خـان هـم پخپلـه ګـوره خرځـول او پـه اتمـانزو کښـې د ګـورې جوړولـو مشـنیري و لګولـه. ددې ځخـه د هغـه مـرا د پښـتنو هغـه غېـر عقلـي رواجونـه او ذهنـي حالـت بـدلول ؤ چـې هغـوی د خپـل ژونـد واک و اختیـار پـه خپـل لاس کښې واخلي.

د باچاخـان د ژونـد لیـک (خـود نویشـت) لـه رویـه چـې د کـال ۱۹۱۶ځخـه تـر ۱۹۱۹پـوري هـر شـپږ میاسـتې باچاخـان د دیوبنـد مدررسـې تـه تللـی دی چـې هلتـه د انګریـز بـه ضـد د مبـارزې کـړنلارې و سـنجوي. دیوبنـد د مهـتمم مولانـا محمودالحسـن، د ریښـمي رومـال غورځنـګ بـاني عبیـدالله سندهي او د قبـایلو ډېـر مـذهبي شخصـیت حـاجي صـاحب د ترنګـزو، پـه دې عقیـده ؤ چـې بایـد د انګریـز د شـړلو لـه پـاره خلـق د پښـتنو قبـائلي سیمو تـه کـډه (هجـرت) وکـړي او هلتـه خپـل عسـکري مرکزونـه جـوړ کـړي. پـه دې حـالاتو کښـې باچـا خـان د هغـوی ددې دریـځ سـخت مخالفـت وکـړ او دا خبـره یـې پـه ډاګـه وکـړه چـې د پښـتنو کلتـوري او ټـولنیز تنظـیم داسـې نـهٔ دې چـې هغـوی دې د سیاسـي عمـل لـه پـاره تیـار کـړې شـي. ځکـه باچـا خـان د هـم دې مـرام لـه پـاره اصـلاحي غورځنـګ پېـل کـړ او پـه کـال ۱۹۲۱ کښـې د انجمـن اصـلاح افاغنـه بنیـاد کښېښـود. پـه کـال ۱۹۲۹ء کښـې پـه اتمـانزو کښـې افغـان جرګـه پرانسـتله او د هغـه وروسـته یـې د خپـل کلـي او خواوشـا د ځوانـانو روزنـه پېـل کړه. د خدایي خدمتګار غورځنګ د هم دغه اصلاحي تنظیمونو ځخه را ټوکېدلی ثمر دی.

ځـهٔ وخـت چـې پـه کـال ۱۹۳۰ءکښـې باچـا خـان د خپلـو ملګـرو سـره د عـدم تشـدد (سـوله ایـزه مبـارزه) د غورځنـګ پېـل وکـړ، نـو هغـه وخـت د قبـایلي پښـتنو ودې غورځنـګ تـه ډېـر کمـه رجـوع وکـړه. او بیـا کلـه چـې پـه زرهـاو پښـتانهٔ د دې لارې پـه سیاسـي، ټـولنیز او تعلیمـي توګـه مـنظم کـول پېـل شـو نـو دا خبـره پېـل شـوه چـې بـا چـا خـان و شـېرانو تـه واښـه (ګیـا ) اچـوي. د یـادونې وړ ده چـې پـه لـومړي ځـل دا خبـره نـامتو شـاعر علامـه اقبـال کـړې ده چـې ذکـر یـې د باچـا خـان پـه خـود نوشـت او د مکولیکـا ښېنـر جـي پـه مـذکوره کتـاب کښـې هم شته.

ددې خبـرې ورد د هندوسـتان پـه مسـلمانانو کښـې پـه تـواتر سـره ګـردان پېـل کـړ. ددې خبـرې تـر شـا لـومړی لامـل دادی چـې د انګریزانـو او نـورو یورپیـانو پـه ډول د هنـد مسـلمانانو هـم تشـدد، وهـل او ترټـل د پښـتنو د حیاتیـاتي او قـدرتي مجبـوري یـا وصـف ګڼـي . معنـا دا چـې د قبـائلي پښـتنو تـه زغـم او برداشـت ورزده کـول داسـې دی لکـه چـې خونخـوار شـېر پـه وښـو (ګیـا ) خوړلـو عـادت کـړل شـي. د دې خبـرې تـر شـا دویـم علـت دا هـم ؤ

چې د هند مسلمانانو هر وخت د پښتنو د متهو په زور خپل شناخت او مفادات خوندي کړي دي.

د باچا خان د خدايي خدمتګار غورځنګ د پښتونولۍ پر لرغوني نظام څۀ ډول اغېزه واچوله، په دې حقله متفاوت او بېل نظرونه شته. د هند د آزادۍ له پاره چې د ديوبند څخه کوم ضد استعماري تحريک را پورته شو نو د هغوی په کړنلارو کښې د عسکريت او تشدد اثرات ډېر غالب و. د باچا خان د خداي خدمتګاري غورځنګ يې د خپل مرام منافي وګڼلو خو هغه ډول مخالفت يې ونه کړو لکه چې د انګرېز و ظيفه خوړونکيو وکړ.

د سيول نافرماني غورځنګ چې څۀ ډول باچا خان په سرحد (خېبر پښتونخوا) کښې وچلولو هغه په ټول هندوستان کښې ساری نۀ لري. پرشوتم مشرا په خپل اثر (The North-West frontier Drama, 1945-1947)کښې ليکي:

> "Combining through long unexamined records, the author found that in 1932, The NWFP with a population of just 3 million accounted for 5,557 convictions for civil disobedience compared with 1,620 in Punjab which had five times as many inhabitants"(8).

"د ريکارډ پلټلو څخه دا حقيقت را بر څېره کېږي چې په شمال مغربي صوبه کښې چې آبادي يې ۳ مليونه ده، په کښې د سول نافرمانۍ ۵۵۵۷کيسونه ريکارډ کړل شوي دي او په پنجاب صوبه کښې چې آبادی يې د شمال مغربي صوبې څخه پنځه واره زياته ده کښې تش ۱۶۲۰ کيسونه ريکارډ شوي دي."

د زغم او رواداری قدرونه په هره روايتي ټولنه کښې په څۀ نۀ څۀ تناسب سره وجود لري. باچا خان د ښو ټولنيزو قدرونو په مرسته د بدو رواياتو د وهلو له پاره پښتانۀ منظم کړل. يعقوب بنګش په خپل مضمون کښې هم دغه خبره ياده کړې ده.

> "Ghaffar Khan repeatedly affirmed the essential goodness behind the Pakhtun way of life and highlighted its great traditions of honor and hospitality, but he was against the evils which had crept into it through time"(9).

ژباړه: "غفارخان (باچاخان) په تواتر سره د پښتنو په ژوند دود کښې هغه داخلي ښېګړو ته نظر اوکړو چې په کښې د ننګ او مېلمستيا قدرونه د يادونې دی، له دې پرته هر هغه رسم چې بد او بې مرامه ؤ، له منځه د وړلو هڅه يې وکړه".

د باچا خان د غورځنګ تر ټولو ځانګړې خبره داده چې، دا د باچا خان د انفرادي اخلاقي اقدارو، هوډ او ټينګي ارادې څخه په وجود کښې راغلی دی. که چېرې د عدم

تشدد په حقله موږ باچا خان د ګاندهي جي خوشه چېن یا لاس نیونکی ګڼو نو دا به لمر په دوو ګوتو پټول وي. ولې چې د باچا خان په ژوند کښې زده کړه یو داسې مستقل لامل دی چې هغه د هر چا څخه کړې ده. هغه په کال کښې دوه ځله دیوبند ته ځکه تللو چې د آزادۍ د غورځنګ ادراک و مونډي او د نورو قامونو مشاهده وکړي او بیا د خپل وطن د معروضي حالاتو په هنداره کښې خپله نعره ، خپل مرام او خپل تحریک وتراشي او روزنه یې وکړي. د باچا خان ژوند لیک ، د اټېر چند او ټنډولکر اثار په دې خبره یوه خوله دي چې باچا خان د زغم جنګ یا خدایي خدمتګارۍ په توسط د کانګرس ملګري نه ده غوره کړې. په کومو حالاتو کښې چې د انګرېز سرکار له خوا پر آزادو ښوونځیانو بندیز ولګېد او خلق جیلونو کښې واچول شول، په هغه وخت کښې د شمال مغربي صوبې پښتنو ته دلوی سیاسي غورځنګونو ضرورت وو چې دنیا له هغوی سره ودرېږي. په دې حقله تر ټولو معتبره وسیله ورځ پاڼې او مجلې وې. باچا خان غوښت چې نړۍ او نور مستعمره قامونو توجه د پښتنو سره د انګریزانو و ظلم او جبر ته را واړوي. ځکه هغوی د داسې سیاسي ملګرو په تکل کښې ؤ چې په خپلو اخبارونو کښې د پښتنو سره د انګرېزانو د تیري ،ظلم او جبر خبرې مشتهره کړي. باچا خان په دې ترځ کښې لومړی د مسلم لیګ ور وټکولو، خو د هغو له خوا یې هیڅ مثبت ځواب ونهٔ مونډلو او له هغه وروسته بیا دهم دې مرام له پاره د کانګرس سره یې تماس ونیولو او هغوی د باچاخان وخبرې ته غوږ شو او د خپله وسه بورې یې د هغه مرسته وکړه.

**د زغم او تشدد دغره:**

د هند د آزادۍ په غورځنګ کښې د مزاحمت تر ټولو زړهٔ لړزونکي پېښې چې په ټوله نړۍ کښې نن هم یاد ساتل کېږي د جلیانوالـه باغ او د پېښور د قیصه خانۍ دي. د خدایي خدمتګارانو پرامنه جلوس د پېښور په ښار کښې په کال ۱۹۳۰ء کښې راوتلی ؤ، چې ورباندې د تاریخ تر ټولو لوی ظلم وشو. د هم دغه بې تفنګه او بې توپه پښتنو پر سینو د انګرېز سامراجي فوځ د ګولیانو بارانونه وکړ. د هند نامتو لیکوال امیتاب پال په خپل مضمون (The Pacifist Uncovered)کښې په دې حقله لیکي:

> “ In the single worst incident, the British killed at least 200 Khidmatgar members in Peshawar on April 23, 1930. Gene Sharp, who has written a study of nonviolent resistance, describes the scene on that day: "When those in front fell down wounded by the shots, those behind came forward with their breasts bared and exposed themselves to the fire, so much so that some people got as many as twenty-one bullet wounds in their bodies, and all the people stood their ground without getting into a panic"(10).

**ژباړه:** "د انګرېزانو له خوا تر ټولو زړه را ښکونکې واقعه چې په کښې ۲۰۰ خدايي خدمتګار ووژل شول د اپريل په ۲۳ په کال ۱۹۳۰ کښې منځ ته راغله. جنرل شارپ کوم چې د عدم تشدد رودادونه ليکلي دي د هغې ورځې د سترګو لېدلی حال داسې بيان کړی دی. "هغه کسان چې پر خپلو بربنډو سينو يې د ټوپک ګولیاني وخوړې او پر مځکه به را پرېوتل، نور کسان به بر بنډې سينې رامخ ته شول، او سينې به يې و ګوليو ته سپر کړې. دغه نۀ هيرېدونکي خلقو کښې داسې هم وو چې يوه کس د ۲۱ ګوليو لګېدلو وروسته پر مځکه را پرېوتی او ټول کسان د خپل واري په انتظار په استقامت سره ولاړ ؤ".

په لوړه تاريخي واقعه کښې ډېر کسان ووژل سول خو هيڅ يوه خدايي خدمتګار د منډې يا ويري نۀ کار وانه خيست او نۀ يې د عدم تشدد سوګند مات کړ. د تاريخ په پاڼو کښې دا د پښتونولۍ په رغښت کښې د بدلون يو ډېر مهم او ثقه ثبوت دې.

د پېښور د قصه خوانۍ واقعې په پښتنو کښې داسې تحريک پيدا کړ چې په لومړي ځل پښتنو د بدلې اخېستلو پر ځای د استعمار په ضد د يوه مخکښ په ملتيا د خپلو لوړو مرامونو له پاره د مبارزې ميدان نور تود کړی. د قصه خوانۍ قيصه د امېتاب پال په مضمون کښې مخته داسې راخېستل شوې ده.

> "The Anglo-Indian paper of Lahore, which represents the official view, itself wrote to the effect that the people came forward one after another to face the firing and when they fell wounded they were dragged back and others came forward to be shot at. This state of things continued from 11 till 5 o'clock in the evening. When the number of corpses became too many, the ambulance cars of the government took them away"(11).

**ژباړه:** "د لاهور اينګلو انډين اخبار چې د دفتري رائې د خپرولو پابند ؤ، هم دغه ډول حالات انځور کړي دي چې خداي خدمت ګاران به يو د بله وروسته مخ ته راغلو، په ګوليو د لګېدو وروسته به و پرزېدل او له ميدانه به يووړل شول او هغه پر ځای به يوبل کس مخ ته راغلی. دا ډول دغه عمل د غرمې څخه د ماځيګرتر پنځو بجو پورې دوام ودرلود. کله چې د مړو تعداد بېخي ډېر شو نو د سرکار ايمبولنسونو راغلو او مړي يې له دې ځايه پورته کړل."

ګاندهي جي چې په ټوله نړۍ کښې د عدم تشدد او عدم تشدد علامت ګڼل کېږي . څۀ وخت چې د باچاخان سره د پښتنو وطن ته راغلی او د خدای خدمتګارانو

تنظیم او د هغوی جذبه یې و کتله نو ډېر زیات متاثره شو. هغه په دې موقع و باچاخان ته داسې او وئیل .

"Yours is the true Non-violence, it is the non-violence of the strong, not the non-violence of the weak and starving"(12).

"اصل او ریښتنی عدم تشدد تاسو کوی، ولې چې دا د ځپلو او محکومو خلقو نهٔ بلکې زورورو خلقو عدم تشدد دی".

باچا خان که څه هم د پښتنو د محکومۍ اصل لامل د هغوی جهالت او بې خبرې ګڼله، کوم چې و بهرني جبر او استحصال ته دوام ورکولو، ځکه د هغه له خوا داسې کلتوري او ټولنیز عمل پېل شو چې د پښتونولۍ لرغونی ژونددود یې د نویو روایاتو سره اشنا کړ. د عدم تشدد فلسفه او خدایي خدمتګار غورځنګ اپروچ په خپل اصل کښې دتعلیمي عمل له لارې د ټولنې کلتوري او ټولنیزه اصلاح کول اوبیا د انګرېز استعمار په ضد داسې مبارزه کول ؤ چې د هغوی د قبضې ،لوټ ماراو د حمکرانۍ جواز له منځه ولاړ شي. دا د انګرېز سامراج له پاره د قبایلي پښتنو له لورې یوه ډېره غېر متوقع خبره وه چې هغوی دې د عدم تشدد لاره خپله کړي.ولې چې انګرېزانو او دنورو یورپي قبضه ګرو ملکونو لکه فرانس، جرمني او سپېن سره په سلهاو کلونو جنګونه کړي وو. او اوس اوس له لومړي جهاني جنګ کښې یې بری تر لاسه کړې و، دا مهال د خپل په ډېره درنه او خودکاره وسله سنبهال ؤ. د سترې لوبې (ګرېټ ګیم) په ترخ کښې د پښتنو سره درې واره په میدان کښې ډغره وهلې وه او اوس چې د لومړي نړېوال جنګه وروسته د هغوی لاس ته زیاته حربي تجربه او سازوسامان ؤ نو وهغوی ته د پښتنو سره د میدان له لارې جنګ کول نور آسانه شوی ؤ. ددې ثرګندونه هغوی د ۱۹۳۰ ء په لسیزه کښې د وزیر قبیلې سره اوبیا د فقیر ایپي (۱۸۹۷ـ۱۹۶۰)سره په چاریکي جنګونو کښې هم کړې ده.

په ۱۹۱۰ ء کښې چې باچا خان په خپل کلي کښې سکول پرانستی هغه وخت دسرکاري ښوونځیانو ډېر کم وو. خو باچا خان په اول ځل د یوه ښوونځي تابیا اوکړه چې د زده کړې ژبه یې پښتو وه. دلته داخبره یو وار بیا جوتېږي چې په ښوونځیواو پوهنتونونوکښې د پردیو ژبو په اساس ددنیا هیڅ یوه قام کلتوري، تهذیبي او د خپلواکۍ شته مني نهٔ ده تر لاسه کړې. ځکه نو دلته ښونځي په اول ځل کښې و کرونده ګرو بزګرانو ته ځای ورکړ او بیا له دې وروسته چې د رجعتي قوتونو او استعما ر پروپیګنډا بې پردې شوه او خلقو ته د زده کړې وداسې آزادي بخښونکی او په روایت کښې اخښل شوی تعلیمي عمل و لیدلو نو یې په خپله د خدایي خدمتګاري و چوپړ ته

ځان وقف کړو او خپل بچیان یې وښوونځیو ته واستول. د مکولیکا بینرجي په تحقیقي مقاله کښې چې کوم ژوندي خدایي خدمت ګاران مرکه شوي دي په هغو کښې داسې کسان هم شته چې د خدایي خدمتګار غورځنګ غړیتوب یې د لسو او دوولسو کلونو په عمر کښې اخېستی دی. له دې څخه دا خبره نوره روښانه کېږي چې ددې غورځنګ تر شا چې کوم وژن ؤ هغه یوازې د انګرېز سامراج څخه خپلواکي تر لاسه کول نۀ وه، بلکې د باچا خان او دهغه د ملګرو شعوري هڅه داوه چې د جنګ وفساد له پاره په ټول جهان کښې مشهور کړل شوي قبایلي پښتانۀ ته د غېر ت، ننګ، جنګ او مزاحمت نوي مفاهیم او معناوی وروښوول شي. د دې له پاره هغه د پښتونولۍ په فکري، اقداري اوعلمي معیارونه د نوي سره د قامي خدمت، فلاح او تهذیبي اوچتوالي له پاره و کارول. له دې پرته دخدایي خدمتګارانو تعلیمي، کلتوري ، تکنیکي رو زنې له پاره باقاعده پروګرامونه پلي شول.

دا تحریک څۀ ډول یو کلتوري تحریک ؤ؟ په دې حقله که موږ د خدایي خدمتګارانو و سوګند (لوړه یا حلف) ته ځیر شو چې له هغوی څخه د غړیتوب ورکولو په وخت کښې پر قرآن مجید باندې اخېستل کیدای،هیله ده چې زما ددعوې له پاره به د ثقه شهادت کار وکړي.

د خدایي غورځنګ د سوګند په حقله بیلا بېل روایات شتون لري چې په خپلو کښې سره متفاوت یا متضاد خونه دي خو د تکرار او اوږدواله احتمال البته په کښې شته. دغه سوګند مکولیکا بینرجي د خپلې پي ایچ ډي د پلتنې په دوران کښې دیوه سپین ږیري خدایي خدمتګار څخه په یوه مرکه کښې اورېدلی ؤ او دلته یې ما (لیکوال) د پښتوژباړه کړې ده.

د لوی او بخښونکي څښتن په نامه چې حاضر او ناظر دي،

زه خدایي خدمتګار یم....

زه به دخپلې ذاتي ګټې پرته د قام وخذمت ته ملا تړم ....

زه به هیڅ کله بدل نۀ اخلم او زما عمل به د هیچا له پاره دآزارباعث نۀ جوړېږي......

زما هر عمل به له تیري (وهلو ترټلو) خلاص وي. ...

د زغم او برداشت پر دغه سوګند به زه په هر وخت او هر ډول شرایطو کښې عمل کوم....

زه به دخلقو خذمت د دی د مذهبي توپیراتو پرته کوم...

زه به هغه شیان په کار راولم چې ځایي/قامي خلقو جوړ کړي وي

زه به دانګرېز سرکار هیڅ یوه نظام/اداري سره اړه نۀ لرم.

ددې سوګند که تنقیدي جاج واخېستل شي نو داخبره به روښانه شي چې ددې غورځنګ زیاتره زور د انسانانو د روئیود بدلون (Behavioral Change) سره تعلق لري، او همدغه د انسانانو رویې وي چې د هغوی عمل تشکیلوي له کوم ځخه چې یو بشپړه کلتوري نظام په وجودکښې راځي چې و ځانګړي ټولنیز، اقتصادي، علمي، سیاسي او قانوني نظامونه ته وده ور کوي. د بیلګې په توګه د هر ډول وهلو ټکولو په مقابل کښې دبرداشت او زغم ځخه کاراخېستل یوه داسې تهذیبي رویه ده چې انسانان یې د سلهاوو کلونو په مدني او ښاري ژوند کښې هم نۀ شي تر لاسه کولای کوم چې د علم، فلسفې او اوچتو اخلاقي روایاتو سره ځان زیات بلد بولي. تاریخی عمل هم دا امر ثابتوی چې پښتانۀ یا د هر قام جارحانه اپروچ کله هم هغه قام دکلتوراندروني تضادات ختم کړي نۀ دي. داسې ډېرې بیلګې شته چې قامونه خارجی استعمار د خپلو متو په زور وباسي خو بیا داسې هم وشي چې خپلواکي تش په نامه پاتې شي او د غورځنګونو مشران او دهغوی کورنیاني او عزیزان داولس له پاره عذاب جوړ شي.

باچاخان او د هغه ملګرو ته دپښتنو د هغو کلتوري او تهذیبي نیمګړتیاوو ډېره ښۀ اندازه وه دکوم له کبله چې هغوی د اتفاق، اقتصادي او مالي شته منۍ او دخپلواکۍ د نعمت ځخه بې برخې وو. د غورځنګ ټولنیز ه بنه دا وه چې د ټیټې طبقې خلق د خپلو صلاحیتونو او ذمه واریانو پر بنیاد په کښې ګډون درلود، ان تر دې چې زنانه هم د دې غورځنګ برخه وې. په کال ۱۹۳۸ء کښې کله چې ددې غورځنګ رېښې د پښتون وطن په ګوټ ګوټ کښې خورې شوې نو د صوبې و چیف سیکرټر ته هم داخواشینی ورپېښه شوه چې په دې غورځنګ کښې د ټولنې بېلابېلې ډلې (طبقې) بې له ځۀ توپیره ګډون لري.

هغه په رپورټ کښې د دې خواشینۍ ځرګندونه کړې ده چې دې غورځنګ د پښتني ټولنې خواران اوخانان په یوه تار سره پېیلي دي چې د دومره پښتنو سره یو ځای کېدل پر خپل ځای یوه خطر ناکه خبره ده. بل دا چې د دې غورځنګ رېښې د صوبې په هر ه سیمه کښې خورې شوي دي.

خدایي خدمتګار غورځنګ تر ۱۷ کاله په مستقیمه توګه دوام ودرلود. د پاکستان د جوړښته وروسته ددې غورځنګ اوددې غړو سره د وخت نویو حاکمانو ځۀ چلن وکړ دا پر خپل ځایي و پلټنې او ګروېږنې ته اړتیالري. خو دلته موږ دې پایلې ته رسو چې دپښتني ټولنې د کلتوري اوښتون په حقله که هر وخت خبره یادیږي نو به ددغه تحریک ذکر تر ټولو لومړی ومخته راځي.

د غورځنګ په سوب په پښتني ټولنه کښې چې کومه سياسي بيداري راغله د هغه تعلق د عام پښتانۀ پر سوچ ((Attitude او روئيې سره په مستقيم ډول تعلق درلود.

خو دغه غورځنګ د پاکستان د جوړښته وروسته ملک ته يو ډېر لوی خطر و ګڼل شو، باچا کان او نور پښتانه مخوران د نوي رياست غداران او د هندوستان جاسوسان و ګڼل شوه، په هم دې پلمه يي دا غورځنګ داسي ؤ وهلو چي بيا يې سر راپورته نه کړ. که چيري د غورځنګ پاتي شوی ؤ، ډېر امکان دی چي د ملک نورو قامونو به هم د خپلو بنيادي انساني ستونزو، سياسي او ټولنيزو حقوقو او کلتوري و تهذيبي شته منيو لپاره ډېر الهامونه ځنې کشيد کړي وو.

❀❀❀

# حوالې

1 http://www.frimmin.com/faith/jesusnonviolence.php
Last accessed June 10, 2014
2 Barton, Sir William, India's North-West Frontier ,
London: John Murray, 1939, p.83
3 Tanner, Stephen. Afghanistan: A Military History from Alexandra the great to the War against the Taliban, Revised edition, da Capo Press, US,2009, p.3

۴ وقار علي شاه (سید) ، آزادي کی تلاش، طبع قومی اداره برا ے تحقیق تاریخ و ثقافت اسلام آباد ، کال ۱۹۸۹ء ص ۴
۵ عبدالغفارخان، زما ژوند او جدوجهد ، حافظ کتب خانه مسجد روډ کوټه، کال (نه دی ذکر شوی)، مخ ۱۰۸
6 Mukulika Banerjee, The Pathan Unarmed, Oxford University press Karachi, 2002, p.73
۷ آتېر چند ، ژباړن زبیر ژمن، باچا خان او د آزادۍ مبارزه، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، ۲۰۱۴، مخ ۵۷
8 http/.www.worldpolicy.org/journal/articles/wpj03-1/meyer.html last accessed June 21,2014
9 Yaqub Khan Bangash, Redefining Pakhtunwali , The news on Sunday,
http://tns.thenews.com.pk/bacha-khan-redefining-pakhtunwali
last accessed June 12,2014
10 Amithab Paul, The pacifist Uncovered, published by Progressive Journal Feb 2003
11 Ibid
12 http://asadafghan.bloguna.tolafghan.com/posts/14865#.U7kz0NxdWd4
last accessed on June 20th,2014